



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشرنيته : 25 مى 2026 ميلادي

# افسوس!

د دنيا حسرت مي وکړ د اخرت حسرت مي هير کړ
نه دنيا راته پکار شوه نه اخرت کې جنتي شوم

نفساني ښېې خـوړې وې زه لاهـو وم بې خبره
سوچ مي ونـکړ عقبا ته ډوب ښېو کې په مستي شوم

زر او سيم بې راښکاره کړ ما يې لومې ته پام نه شو
د شيطان لومه خوړه وه لاس تړلى بې قيدي شوم

ما ويل ده نده همدا ده نور له ده نه به څه ښه وي
دا عشرت خو موقت اوو زه محروم له ابدي شوم

د ځواني موسوم مي لاړه ږيرې واورې رنګ نيولى
اوس لګېږه چې په لاس ده پوه د خپل په بې خبري شوم

د جومات ګوټ مي نيولى زه محب افسوس کې ډوب يم
چاته زوړ ملنګ بوډا يم چاته بې له حج حاجي شوم

***

محب الرحمن « خطيبى »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org